افسانه

# حـــجره

**نګهت یاسمین درډمنه**

اوس!!! او......اوس خلق زمانه دا سوال هم نهٔ کوي چې

وادهٔ به کله کوې؟

بلکې اوس خو چې زما په سر کښې د تورو په ځائے سپین وښتهٔ ووینې نو تپوس وکړي چې "تا وادهٔ ولې ونهٔ کړو؟"

په اول اول کښې خو دا خیال ؤ چې ګنې زهٔ صحیح یم. ولې نن زهٔ سوچ کوم چې نهٔ زهٔ صحیح نهٔ یم ځکه چې ټوله دنیا غلطه څنګه کېدې شي. یوه خبره چې زهٔ ئې صحیح ګڼم هغه خلق غلطه بولي او چې زهٔ څهٔ ته غلط ګورم نو هغه د خلقو په نظر کښې صحیح ګڼلے شي. ان تر دې چې زما پلار هم ما غلط ګڼي. هغهٔ به اکثر ماته وئیل چې " یو بنده حجره پاس نهٔ کړي هغه د ژوند په هر امتحان کښې فېل وي". ولې اوس هغهٔ هم ماته دا وېنا بس کړه ځکه چې اوس زما عمر د پوهولو نهٔ دے. زهٔ د پوخ عمر سړے یم او په یو مقامي کالج کښې استاد یم. زما ډېر خواهش ؤ چې زهٔ ایم فل او پي ایچ ډي وکړم او اوس د خدائے ډېر لوئے احسان دے زهٔ پي ایچ ډي ډاکټر یم خو افسوس چې ما حجره پاس نهٔ کړې شوه ځکه خو د ژوند په هر اړخ کښې فېل راځم.

زهٔ چې لا ډېر ورکوټے وم نو ما یو ځل وئیلي وو چې زهٔ به ډاکټر جوړېږم. زما نیا وخندل چې بیا خو به ما له هم تهٔ ستن وهلے شې او دارو به هم راکوې او ما ورته ووې چې نهٔ هغه ډاکټر نهٔ بلکې د علامه اقبال غوندې ډاکټر.

زما عمر کم ؤ، پوهه مې دومره نهٔ لرله ولې دومره راته معلومه وه چې د علامه اقبال غوندې ډاکټر ستن نهٔ وهي خو بیا هم ډاکټر وي او د دې ډاکټر جوړېدو دپاره ما د ژوند یوه لمحه هم ضائع نهٔ کړه تر دې حده پورې چې د ماما د کاکا د زامنو ودونو، کوېژدنو له هم چرې نهٔ وم تلے او په دې خبره به اکثر زما نه زما مور خفه وه او په داسې موقع به ئې ځان سره ورو غوندې وئیل چې:

" خانه! چې تهٔ چا سره غم ښادي نهٔ کوې نو سبا له به تا له څوک راځي" او بیا اخر هغې هم همت بائلو او زهٔ به ئې نهٔ مجبورولم.

څهٔ وخت کښې خو به خلقو هم زمانه ګیله کوله چې زهٔ صرف او صرف د کتابونو تر حده ولې ژوند تېروم. سبق ښهٔ شے دے خو سبق وئیلو سره سره غم ښادي کول هم د معاشرتي ژوند برخه ده خو بیا ورو ورو خلق زما د موجودګۍ نه بغېر اموخته شول. اوس کهٔ چرې زهٔ چرته غم ښادۍ له لاړ شم نو ډېر خلق راته په حېرانتیا وائي:

واه! دا تهٔ د کومې غاړې؟

زما د ژوند مقصد صرف او صرف سبق وئیل وو او پي ایچ ډي ډاکټر جوړېدل وو. زما به همېشه خواهش ؤ چې په خپل جومات کښې اول راشم او

چې جماعت کښې اول راغلم نو ما غوښتل چې پوره سکول کښې برے ومومو او چې کله د لسم دولسم امتحانانو ته کښېناستم نو زما خواهش دا ؤ چې د صوبې په سطح نمبر یوسم. د دې خواهش پوره کولو دپاره ما د ورځې او د شپې فرق پرېښودو. د معاشرتي ژوند نه لرې لاړم او دخپل مقصد د حاصلولو دپاره مې د خپلو خپلوانو نه ځان وشوکوو او هم دغسې پوړۍ په پوړۍ مې کامیابۍ اخستې. او اخر د ایم ایس سي فزکس نه وروستو د هائر ایجوکېشن کمېشن په ذریعه د بهر ملک د سکالر شپ دپاره غوره کړے شوم. دغه ورځ په ما د لوئے اختر ورځ وه ولې زما مور پلار په دغسې ورځ هم زما نه خفه وو. پلار راته په دغه ورځ په اخري ځل ووئیل:

" چې چا حجره نۀ وي پاس کړې هغه همېشه فېل وي".

او مور غریبې مې صرف دومره ووئیلے شو.

" هلکه! ستا د کوېږدن او وادۀ دا ارمان به مې په زړۀ پاتې شي". ولې ما هېڅ پروا ونۀ کړه او په خوشحالو خوشحالو د پي ایچ ډي دپاره بهر ملک ته روان شوم. هلته هم زما توجه صرف او صرف په تعلیم وه. د هغې ملک د رنګینو او ښاپېرو نه زۀ ناخبره پاتې شوم. مور پلار ته به مې ډېر کم فون کولو. په سټډي کښې دومره بوخت پاتې شوم چې دا پنځۀ کاله راته پته هم ونۀ لګېده چې کله تېر شول. ما خپل تهیسیز په وخت داخل کړل او بېرته خپل وطن ته راغلم. سر مې ګنجے شوے ؤ او د نظر غټې غټې چشمې مې اچولې وې. زیاتره همځولي مې د لویو لویو بچو پلاران وو. یو د ترۀ زوئے مې چې ما سره ئې د لسم امتحان ورکړے ؤ او په هغه ځل د انګلش په پرچه کښې فېل شوے ؤ. د قومي اسمبلۍ ممبر جوړ شوے ؤ. مخکښې وروستو ترې نه پولیس او سکرټران ګرځېدل. ولې چې نن سبا ورسره د تعلیم د محکمې قلمدان ؤ. خو بیا هم ما په ځان فخر کولو او ډېر خوشحاله وم چې د ژوند یو لوئے مقصد مې ترلاسه کړو. زما خیال ؤ چې زما خپل خپلوان به ماته تود هرکلے وائي. ولې دلته حال بدل ؤ، چا هم زما په پستنه راتلو څۀ خاص اظهار ونۀ کړو. بس کۀ چا تپوس وکړو نو صرف دا " ولې تۀ د هلته نه هم بې وادۀ راغلې؟".

اوس یو ځل بیا زما مور زما د وادۀ دپاره سرګردانه شوه ولې چرته چې به لاړه نو سترې ستومانه به واپس شوه. د چا په خیال به زۀ د پوخ عمر خاوند وم او د چا په نظر کښې به زۀ ډېر سنجیده وم، نو رشته به ونۀ شوه او دغسې زما عمر اوس زما د ګوتو نه لکه د الوتي مرغۍ د واپس کېدو نۀ ؤ او واپس نۀ شو.

اوس خو زۀ د حجرې جومات د تلو قابل هم نۀ یم ولې چې ما له د خلقو سره هغسې خبرې اترې نۀ راځي اوس خو چې زۀ خلقو ته ګورم نو وحشت محسوسوم او چې کله خلق په خندا خوشحالۍ وینم نو حېران ورته پاتې کېږم او د خدائے بخښلي پلار هغه خبره راته رایاده شي.

" چې چا حجره پاس کړې نۀ وي هغه په هر امتحان کښې فېل وي".

* * *